هفته نامه **معارف** اوونیزه

تعلیم و تعلم عبادت است

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۲۵) ماه ذوالحجة ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه ثور ۱۴۰۵ هـ ش.

# نشست رهبری وزارت معارف در مورد تطبیق مؤثر رهنمود استخدام



نشستی تحت ریاست محترم الحاج مولوی حبیب‌الله آغا وزیر معارف با حضور محترم الحاج مولوی صبغت‌الله وصیل معین مالی و اداری، شماری از رؤسای مرکزی و ولایتی و کارشناسان، به‌گونه حضوری در رابطه به تطبیق مؤثر رهنمود استخدام و گماشتن افراد شایسته برگزار شد.

در آغاز وزیر محترم معارف پیرامون استخدام افراد شایسته صحبت نموده و به مسئولان مربوطه هدایت داد تا مطابق طرزالعمل مشخص افراد مستعد و متعهد را در بست‌های یادشده استخدام نمایند.

وی افزود: استحکام و تقویت نظام تعلیمی وابسته به استخدام افراد شایسته و متعهد است و در این زمینه بر تعهد قوی و اخلاص کامل تمامی منسوبان، استادان و معلمان تأکید کرد. سپس، معین محترم مالی و اداری به‌گونه همه‌جانبه پیرامون روند استخدام در بست‌های خالی صحبت کرده و در مورد وضعیت فعلی ساختار تشکیلاتی، ساده‌سازی روند استخدام در بست‌های خالی مرکزی و ولایات، اختصاص بست‌ها برای مهاجرین برگشته به ملک و مناطق نزدیک به خط فرضی و همچنان افزایش تشکیل در آینده معلومات ارائه کرد. وی از مسئولان ادارات مربوط خواست تا از این روند با شفافیت کامل نظارت نمایند.

در ادامه، رئیس عمومی امور کارکنان وزارت معارف در مورد رهنمود جدید تشکیل و ساده‌سازی روند استخدام معلومات داده افزود که در حال حاضر مسئولان ادارات مربوط می‌توانند حتی به سطح ولایات و ولسوالی‌ها نیز امتحان اخذ و افراد شایسته را برای بست‌های مربوطه به وزارت معارف معرفی نمایند.

در جریان این نشست، شماری از مسئولان ولایتی معارف پرسش‌هایی را در رابطه به تشکیل مطرح کردند که از سوی کارشناسان معینیت مالی و اداری به‌گونه مفصل معلومات داده شد.

## د پوهنې وزیر له لوري په بامیان ولایت کې یو شمېر ښوونیزې پروژې پرانیستل شوې

د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوي حبیب‌الله آغا بامیان ولایت ته د خپل سفر پر مهال د ۴۲ مېلیونه او ۶۲۴ زره افغانیو په ارزښت یو شمېر ښوونیزې پروژې پرانیستې.

په یادو پروژو کې چې د یوه همکار بنسټ په مالي ملاتړ پلې کېږي د ۳ سیمه‌ییزو ښوونځیو جوړول، د ښوونځي څخه مخکې زده‌کړو لپاره ۵۲ ټولګي، ۲۴۷ تقویتي ټولګي، ۱۸۵ جبراني ټولګي او ۲۲ اوږدمهاله ښوونیز حمایوي پروګرامونه شامل دي. همدارنګه، د ۲۰۳۰ ښوونځیو لپاره د قرطاسیو وېش او د ۱۵۴ امارتي ښوونځیو ملاتړ هم په پام کې نیول شوی دی،

د پوهنې محترم وزیر د یادو پروژو په پرانیست غونډه کې د ښوونې او روزنې د ارزښت په اړه هر اړخیزه وینا وکړه او ویې ویل: «د دیني علومو ترڅنګ د عصري علومو زده‌کړه د نن ورځې له اساسي اړتیاوو څخه ده.»



نوموړي د خپلو خبرو په دوام له ښوونکو او د پوهنې له کارکوونکو وغوښتل چې د راتلونکي نسل د روزنې په برخه کې له هېڅ راز هڅو او کوښښ دډه ونه کړي.

هغه همدارنګه ژمنه وکړه چې د پوهنې وزارت به د ملک په لېرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونیزو خدمتونو د پراختیا او پرمختیايي پروګرامونو پلي کولو په برخه کې خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

## د دعوت او ارشاد ریاست له لوري د کابل ښار ښوونکو لپاره اصلاحي غونډه ترسره شوه

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست او د امربالمعروف او نهی عن المنکر د تنفیذ پلاوي له لوري د مالي او حسابداري معین محترم الحاج مولوي صبغت الله وصیل، د کارکوونکو چارو لوی رئیس محترم مفتي شفیع الله منصور، د دعوت او ارشاد رئیس محترم الحاج مولوي جمعه خان سروري، یو شمېر آمرینو او ښوونکو په ګډون د کابل ښار پوهنې ریاست اړوندو مرکزي ښوونځیو د ښوونکو لپاره یوه ورځنۍ اصلاحي او روزنیزه غونډه ترسره شوه.

یاده غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه، وروسته د پوهنې وزارت مالي او اداري محترم معین د ښوونکو د دندو، مسئولیتونو، ځانګړتیاوو او اساسي موخو تشریح کولو ترڅنګ د پوهنې کارکوونکو ته وینا وکړه او د ښوونکو دنده یې د ټولنې په هراړخیز پرمختګ کې مهمه او ارزښتناکه وبلله.

همدارنګه د کارکوونکو چارو لوی رئیس د خپلې وینا پرمهال په ټولنه کې ناسم رواجونه تشریح کړل او ګډونوال یې په خپلو دندو کې د ناسمو رواجونو په وړاندې مبارزې ته وهڅول.

د غونډې په بهیر کې د بېلابېلو ښوونیزو ناحیو استاذانو او ښوونکو د زده کوونکو فکري جوړښت، سالمې روزنې، د امربالمعروف او نهی عن المنکر د قانون ارزښت او عملي کولو سربېره د لمانځه...

۲مخ

## د مدارسو او دارالحفاظونو نوی رئیس معرفي شو

د پوهنې وزارت په وړاندیز او د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء د حکم پر بنسټ محترم الحاج مفتي محمد یوسف ثاقب د یوې غونډې په ترڅ کې د پوهنې وزارت د اسلامي زدکړو د معین محترم الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده له لوري د مدارسو او دارالحفاظونو د نوي رئیس په توګه معرفي او کارکوونکو ته وروپېژندل شو.




د پوهنې وزارت د اسلامي زدکړو محترم معین په خپلو خبرو کې د پخواني رئیس محترم الحاج مولوي عبدالرزاق صدیق له کړنو ستاینه وکړه، هغه زیاته کړه چې بدلون او تبدیل د هر نظام یو اساسي اصل دی او دا بدلونونه د ورتیا لوړولو، د اصلاحاتو راوستلو او د خدماتو د معیاري کولو لپاره اړین دي.

نوموړي همداراز دنده او مسئولیت یو درونده امانت وباله او نوي رئیس ته یې د چارو په ترسره کولو کې د بریاوو هیله وکړه.

په پای کې، د مدارسو او دارالحفاظونو نوي رئیس له ټولو کارکوونکو وغوښتل چې په بشپړې همکارۍ سره د دغه ریاست چارې په منظم ډول پر مخ یوسي.

د یادونې وړ ده چې محترم الحاج مولوي محمد یوسف ثاقب تر دې وړاندې د پوهنې وزارت د اساسي او ثانوي زدکړو د رئیس په توګه دنده تر سره کوله .

### در این شماره

په ښوونځیو کې ډلبندي د ښوونیز نظام په پرمختګ کې سترګام دی — ۲مخ

مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله — ۳مخ

معلم؛ چراغ راه و الگوی مهربانی در تربیت شاگردان — ۴مخ

سرلیکنه

# په ښوونځیو کې ډلبندي د ښوونیز نظام په پرمختګ کې سترګام دی

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلامُ عَلَى سَيِّدِالمُرسَلِينَ وَ عَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

د ښوونې او روزنې هر جوړښت هغه مهال بریالی کېدای شي چې د زده‌کوونکو اړتیاوې، ورتیاوې او علاقه په پام کې ونیول شي. په همدې لړ کې د پوهنې وزارت له لوري د ملک په یو شمېر ښوونځیو کې د ډلبندۍ (رشته‌بندۍ) جوړښت پلي کېدل کولای شي د افغانستان د ښوونیز بهیر په کیفیت کې ژور او بنسټیز بدلون را منځ ته کړي. دا جوړښت د زده کوونکو د فکر، زده‌کړې او راتلونکي جوړونې لپاره ستر او مهم بدلون دی.

کله چې زده‌کوونکي د خپلو استعدادونو له مخې په بېلابېلو څانګو ووېشل شي، نو هغوی ته دا فرصت برابرېږي چې پر هغو مضامینو تمرکز وکړي چې ورسره مینه او پکې ښه ورتیا لري. دا چاره د زده‌کوونکو ذهني فشار کموي، ځکه هغوی نور اړ نه وي چې په ټولو مضمونونو یو شان تمرکز وکړي، هغوی کولای د خپلې خوښې مضامین په مینه سره ولولي او په هماغه څانګه کې ژوره پوهه ترلاسه کړي، چې دا خپله د دوی د ښې زدکړې او پوهې کیفیت د لوړوالي لامل ګرځي.

د ډلبندۍ بهیر پلي کېدل به په ښوونځیو کې د تدریس لارې چارې هم بدلې کړي، هغه دا چې ښوونکي به وتوانېږي خپل تدریس، تخصصي کړي او د هرې څانګې لپاره ځانګړې طریقې وکاروي. دا به د تدریس اغېزمنتیا زیاته کړي او زده‌کوونکي به له عملي او مفهومي زدکړو څخه ډېره ګټه پورته کړي. همدارنګه، دا جوړښت به د راتلونکي لپاره مسلکي کدرونه وروزي، چې د ملک د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره خورا مهم دي.

له بلې خوا، د ډلبندۍ ارزښت په دې کې دی چې د زدکړې بهیر د کار بازار له اړتیاوو سره عیاروي. کله چې زده‌کوونکي له ښوونځي څخه د یوې ځانګړې څانګې له مهارتونو سره فارغ شي، نو هغوی به وکولای شي په آسانه توګه لوړو زدکړو یا کاري فرصتونو ته لاسرسی پیدا کړي. دا به د بې‌کارۍ په کمولو او د مسلکي مهارتونو په لوړولو کې مهم نقش ولوبوي.

د پوهنې وزارت له لوري په تېرو پنځو کلونو کې شته امکاناتو ته په کتو د پوهنې په برخه کې لاسته راوړنې کم ساري او د پام وړ دي. ددې لاسته راوړنو او پرمختګونو په لړ کې دا ځل پوهنې وزارت په تدریجي ډول د ملک په ښوونځیو کې د ډلبندۍ نظام پلي کولو په برخه کې مهم ګام پورته کړی او ددې بهیر د لا ښه پلي کولو لپاره پوره هڅې کوي، د پوهنې وزارت رهبري په دې انده ده چې په ښوونځیو کې ډلبندي د تعلیمي نظام د اصلاح لپاره یو حیاتي او مهم ګام دی او دا نه یوازې د زده‌کوونکو د ورتیاوو د ودې لامل ګرځي بلکې د ټولنې د پرمختګ لپاره هم یو غښتلی بنسټ برابروي.

نو انشاءالله، تمه ده چې د رشته بندۍ نظام په پلي کېدو سره به د ملک په ښوونیز بهیر کې به مثبت، دوامدار او بنسټیز بدلونونه رامنځته شي.

## افتتاح تعمیر جدید یک باب مکتب به هزینه ٦ میلیون افغانی در ولایت غزنی



تعمیر جدید مکتب شهدای حیدر در قریهٔ حیدر ولسوالی جاغوری ولایت غزنی، که به هزینهٔ حدود ۶ میلیون افغانی اعمار شده است، از سوی مسئولان ریاست معارف ولایت غزنی طی مراسمی که شماری زیادی از علماءکرام و باشنده گان محل حضور داشتند افتتاح و به بهره‌برداری سپرده شد. مکتب یاد شده با حمایت مالی مردم محل در دو طبقه ساخته شده و دارای ۱۲ صنف درسی، یک اتاق اداری و یک باب کتابخانه می‌باشد که با ساخت این تعمیر، برای حدود ۴۰۰ تن شاگرد محل محیط مناسب و مصئون آموزشی فراهم شده است.

## په زابل کې د مرستندویه درسي توکو وېش او د یو باب دیني مدرسې د جوړولو چارې پیل شوې

په زابل ولایت کې د یوه همکار بنسټ له لوري له پوهنې ریاست سره د ۳۹۴ کڅوړو مرستندویه درسي توکو مرسته شوې چې ټولیز ارزښت یې ۲ میلیون ۳۶۲ زره او ۲۹۵ افغانۍ ښودل شوی دی.

د یاد ولایت پوهنې مسئولین وایي چې دغه درسي مواد به د ټاکل شوې سهمیې له مخې د ښوونځیو پر زده‌کوونکو ووېشل شي. همداراز په دایچوپان ولسوالۍ کې د مفتاح المدارس په نوم د یو باب دیني مدرسې د جوړولو چارې پیل شوې.

د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایې چې یاده ودانۍ په ۲ جریبه ځمکه کې چې د ځایي اوسېدونکو له لوري وقف شوې په یو پوړ کې چې ۱۱ درسي ټولګي او یوه اداري خونه به ولري د شاوخوا ۸ سوه زره افغانیو په لګښت جوړېږي، ددوی په خبره ددې ودانۍ په جوړېدو سره به د سیمې شاوخوا ۲۵۰ تنه طُلابو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېریال برابر شي.

## سنگ تهداب یک باب مدرسه در ولایت غزنی گذاشته شد

سنگ تهداب ساخت یک باب مدرسه دینی به نام بدرالشهداء در قریه خاربلاق ولسوالی قره‌باغ ولایت غزنی با حضور مسئولان ریاست معارف و باشندگان محل گذاشته شد.

به گفته مسئولان ریاست معارف غزنی تعمیر مدرسه یاد شده که در مساحت ۳ جریب زمین ساخته میشود دارای ۸ صنف درسی و یک اتاق اداری خواهد بود. مسئولان می افزایند که هزینه ساخت آن حدود یک میلیون افغانی تخمین شده است که از سوی باشنده گان محل کمک شده است.

گفتنیست که با ساخت تعمیر این مدرسه برای صدها تن طُلاب این محل زمینه فراگیری آموزش های دینی فراهم خواهد شد.

## په ننګرهار ولایت کې د لسګونو ښوونځیو د بیارغونې چارې بشپړې شوې




دننګرهار ولایت په هسکې مېنې، کوټ، سپین‌غر او اچین ولسوالیو کې د ۱۷ بابه ښوونیزو مرکزونو د ترمیم چارې د یوه همکار بنسټ په مالي مرسته د ۱۲ میلیونه افغانیو په لګښت بشپړې او د یاد ولایت پوهنې ریاست مسئولینو له لوري تر پرانیستو وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د یاد ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو په وینا په یادو پروژو کې د ښوونځیو د ودانیو ترمیم، د احاطوي دېوالونو جوړول، د روغتیایي آسانتیاوو برابرول، د لمریزې برېښنا جوړښتونو نصب او د څښاک پاکو اوبو زېرمې جوړول شاملې دي چې د یادو ښوونځیو په سلګونو تنه د زده‌کوونکو او کارکوونکو لپاره یې لازمې آسانتیاوې برابرې کړې دي.

## کار ترمیم ۵ باب مکتب در کابل تکمیل و به بهره برداری سپرده شد

کارهای ترمیم و بازسازی ۵ باب مکتب در ولسوالی‌های بگرامی و ده‌سبز ولایت کابل تکمیل طی مراسمی از سوی مسئولان ریاست معارف ولایت کابل به بهره‌برداری سپرده شدند.

به اساس معلومات مسئولان ریاست معارف ولایت کابل این پروژه‌ها شامل رنگ و ترمیم ساختمان‌ها، دیوارهای احاطوی، نصب سیستم‌های برق و حفر چاه آب آشامیدنی و سایر ملحقات ضروری مکاتب می‌باشد هزینهٔ مجموعی آن به ۳.۲ میلیون افغانی میرسد که از سوی یک نهاد همکار پرداخت شده است.

به گفته مسئولان با تکمیل کار ترمیم این مکاتب فضای مصئون آموزشی برای صدها شاگرد مکاتب ولسوالی های یاد شده فراهم شده است.

### د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست له...

او جماعت په تړاو هم تفصیلي او اغېزناکه ویناوې وکړې.

دغه راز د غونډې په بهیر کې د اسلامي امارت د مشرتابه عالیقدر مقام د فرامینو اړوند جریدې او ورسره نغدي ډالۍ هم په ښوونکو ووېشل شوې.

یاده غونډه د پوهنې وزارت د دعوت اوارشاد رئیس محترم الحاج مولوي جمعه خان سرور لخوا تر لنډې علمي وینا وروسته ددعائیې په لوستلو سره پای ته ورسېده.

### پوهنې وزارت د ۱۴۰۵ ښوونیز کال د وري میاشتې...

دغه راز، یوه دیني مدرسه جوړه او د ۳ بابه ښوونځیو او ۳ بابه دیني مدرسو لپاره د نویو ودانیو بنسټ ډبرې اېښودل شوې دي.

په لوګر ولایت کې د ۸ بابه ښوونځیو لپاره د ۲ میلیونه او ۳۸۸ زره افغانیو په لګښت د لمریزې برېښنا سیستمونه فعال شوي دي.

دننګرهار او بدخشان په ولایتونو کې د ښوونځیو لپاره د نویو ودانیو جوړولو په موخه د علم‌دوسته هېوادوالو له لوري ۵ جریبه او ۱۶ بسوې ځمکه وقف شوې ده.

په بامیان او غور ولایتونو کې د نالوستو هېوادوالو لپاره ۶ بابه د سواد زده‌کړې ټولګي جوړ او په رسمي ډول فعال شوي دي.

په خوست او میدان وردګ ولایتونو کې د مسلکي او علمي کادرونو د جذب او کار اهل کار ته د سپارلو په موخه (۶۱) د ښوونکو خالي بستونه د آزادې سیالۍ له لارې اعلان ته وسپارل شوي دي.

د کابل ښار، پروان، کاپیسا، پکتیکا، لغمان، تخار او هرات ولایتونو کې له تازه راستانه شویو ۲۳۹۳ تنو افغان کډوالو ماشومانو څخه د سویې تثبیت آزموینې اخیستل شوې دي.

د پوهنې وزارت له لوري په کابل ښار او تخار ولایت کې له شاوخوا ۵۰۰ تنو هغه مجاهدینو څخه چې په تېرو کلونو کې د جهادي فعالیتونو له امله یې زده کړې نیمګړې پاتې شوې وې د سویې تثبیت آزموینې اخیستل شوې دي. چې ددې آزموینې وروسته هغوی ته د زده کړو د بشپړولو په موخه ددوی د پوهې کچې ته په کتو د یادو ولایتونو ښوونځیو ته ورپېژندل شوي تر څو خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.

همداراز د پوهنې په برخه د همکارو بنسټونو له لوري په لوګر، زابل او لغمان ولایتونو کې له یو شمېر ښوونځیو سره د ۱۶ میلیونه او ۷۵۵ زره افغانیو په ارزښت د ۳۵۱۳ درسي کڅوړو، قرطاسیې او دفتري اړینو وسایلو مرسته شوې ده.

## لنډ خبرونه

### غور

د پوهنې وزارت د ساینس مرکز له لوري د غور ولایت پسابند ولسوالۍ اړوند د خواجه وهاج‌الدین، شاه سنګان، تلمستان، سفیدبز او سیدمیرعلي‌شاه په لیسو کې د ساینسي مضمونونو نوې آزموینت‌خونې فعالې شوې.

د یاد ولایت پوهنې مسئولین وایي، چې د یادو ټولګیو په جوړېدو سره د ښوونځیو ښوونکو ته لاربښوونه شوې چې دغه ټولګي تل فعال وساتل شي، ترڅو زده‌کوونکي ترې په دوامداره توګه ګټه واخلي.

### پکتیا

برای مدرسه دینی نورالعلوم در ولسوالی وزی ځدران ولایت پکتیا به کمک مالی باشنده گان محل یک محراب مسجد به هزینه ۲ میلیون افغانی اعمار می شود.

محترم الحاج مولوی عبدالقیوم فاروقی رئیس معارف ولایت پکتیا ضمن قدردانی از همکاری مردم محل افزود؛ که این مسجد در یک زمان گنجایش بیش از یک هزارو ۶ تن نمازگزار را خواهد داشت، او از سایر هموطنان نیز خواست تا از نظام تعلیمی ملک حمایت کنند.

گفتنیست که کار ساخت این مسجد تا کنون ۵۰ در صد تکمیل شده است و به زودی به بهره برداری سپرده خواهد شد.

### هرات

یک بنیاد خیریه برای حدود ۱۵۰ تن از کارکنان خدماتی ریاست معارف ولایت هرات بسته های کمکی از قبیل برنج و روغن توزیع کرد. مسئولان ریاست معارف ولایت هرات از این اقدام نیک و خیرخواهانه این بنیاد خیریه قدردانی کرده و کمک به مستمندان و اقشار آسیب‌پذیر جامعه را یک عمل نیک و پسندیده عنوان کردند.

### غزني

د غزني ولایت ګیلان ولسوالۍ اړوند د ویس قرني په نوم دیني مدرسې جوړولو لپاره د سیمې اوسېدونکو له لوري ۲ جریبه او ۶۳۲ متره مربع ځمکه وقف شوه.

د پوهنې وزارت مشرتابه د غزني ولایت د علم دوسته اوسېدونکو له مادي او معنوي مرستې او ملاتړ څخه مننه کوي او د ملک د تعلیمي نظام د پیاوړتیا په برخه کې د خلکو دا ډول همکارۍ ارزښتناکې بولي.

### لغمان

د لغمان ولایت له پوهنې ریاست سره د یوه همکار بنسټ له لوري د ۳۱۳ زره او ۶۰۶ ډالرو په ارزښت، د ۵ زره ۹۲۸ کڅوړو درسي توکو مرسته وشوه.

د لغمان ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایې په دغو مرستو کې د ښوونکو لپاره ۱۹۱۴ کڅوړې د درسي مرستندویه توکو او د زده‌کوونکو لپاره ۲۱۰۰ کڅوړې قرطاسیه شامله ده، چې د ټاکل شوي وندې له مخې به د مرکز او ولسوالیو په اړوندو ښوونځیو ووېشل شي.

مسئولین زیاتوي، د دغو مرستو په وېش سره به ښوونیز بهیر پیاوړی او زده‌کوونکو ته به د لا ښو زده‌کړو آسانتیاوې برابرې شي.

### ننګرهار

د ننګرهار ولایت سرخرود ولسوالۍ اړوند بي بي مریم منځنی ښوونځي سره د یوه همکار بنسټ له لوري د شاوخوا ۲.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۰ پایو خېمو مرسته وشوه.

# مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه‌الله

**لیکنه: قاري منصور احمد حمزه**

لوی ملا صاحب رحمه الله په ساده ژوند مشهور، د عیش او عشرت څخه لیرې او تل یې دا خوښوله چې د یوه عام وګړي په څېر ژوند وکړي، په ډېر کم شي به یې قناعت کاوه او تل به یې د اُمت او ملت په اړه مثبت او هر اړخیز ژور فکرونو کې ژوند تېرولو.

خپل ټول ژوند یې د دیني ارزښتونو او اسلامي شعایرو پر بنسټ تېر او د اسلامي شریعت تطبیق ته په پوره معنا ژمن او متعهد شخص و. د هغه (رحمه‌الله) نظر همدا و چې د انسان حقوق یوازې په همدې مبارک دین کې نغښتي دي، اسلامي دین د ژوند هر اړخ ته لارښوونه کوي او په همدې لاره یې تر آخیري سلګۍ تعقیب او ټولو خلکو ته یې دا جوته کړه، چې اسلام یوازنی دین دی چې د ټول عالَم خیر او ښېګڼې پکې نغښتي دي.

هغه رحمه الله د لوی زړه خاوند، په مظلومانو مهربان او د ظالم پر وړاندې د غر په څېر ولاړ و او تل یې د خپل رعیت ښېګڼه غوښته. هغه (رحمه الله) د خپلو خلکو سره د مینې احساس خورا ډېر لوړ او په ملت یې ځلانده د شفقت لاس نیولی و، تل یې ماتحت وګړو ته د صله رحمي توصیې او سپارښتنې کولې په ځانګړې توګه د هغو کسانو سره یې ډېر ښه تعامل او چلند کولو چې فقیر، مسکین او بېوزله به و.

د شوروي اتحاد په وړاندې جهاد کې د سختیو او کړاوونو په زغملو سره په مېړانه جهاد وکړ او همدارنګه یې د شر او فساد تغر له ټول ملک څخه ټول کړ ترڅو ملت د ستونزو څخه راووزي او په ځمکه الهي عدالت تأمین شي. هغه رحمه الله د سختیو په وړاندې کامل استقامت درلود؛ یو مستغني او کامل ولي شخصیت و.

په لنډه توګه به ووایم چې لوی ملا صاحب رحمه الله په خپل ژوند کې د اسلامي ارزښتونو او اخلاقي ځانګړتیاوو د تطبیق لپاره تل هڅه کوله، لله الحمد چې دي کار یې شخصیت ته ځانګړې او خاص رنګ او ځای ورکړ.

(ومن الله التوفیق)

اې ثالث عمره! الله تعالی دې په قبر انوارات نازل کړه. (آمین)

# معلم؛ چراغ راه و الگوی مهربانی در تربیت شاگردان

برخورد استادان با شاگردان یکی از مهم‌ترین عوامل در پیشرفت تعلیمی و رشد شخصیتی شاگردان است. معلم نه تنها انتقال‌دهندهٔ علم است، بلکه الگو و راهنمای اخلاقی نیز به شمار می‌آید.

در ادامه مطلبی دربارهٔ چگونگی رفتار استادان با شاگردان آورده شده است:
استادان باید با شاگردان خود با احترام و مهربانی رفتار کنند. احترام گذاشتن به شخصیت شاگردان باعث می‌شود که آنان احساس ارزشمندی کنند و با علاقهٔ بیشتری به درس توجه نمایند. استفاده از لحن نرم و دوستانه، به جای برخورد تند و تحقیرآمیز، فضای صنف را آرام و دلپذیر می‌سازد.

همچنین، استاد باید صبور و باحوصله باشد. شاگردان سطح‌های مختلفی از توانایی و درک دارند، بنابراین لازم است استاد به تفاوت‌های فردی آنان توجه کند و در صورت نیاز، چندین بار مطالب را توضیح دهد. تشویق شاگردان، حتی برای پیشرفت‌های کوچک، می‌تواند انگیزهٔ آنان را افزایش دهد.

عدالت در رفتار نیز از ویژگی‌های مهم یک استاد خوب است. استاد نباید بین شاگردان تبعیض قائل شود، بلکه باید با همه به صورت یکسان و منصفانه برخورد کند. این کار باعث ایجاد اعتماد و احترام متقابل در محیط آموزشی می‌شود.

از سوی دیگر، استاد باید شنوندهٔ خوبی باشد. گوش دادن به مشکلات، سوالات و نظرات شاگردان نشان می‌دهد که استاد به آنان اهمیت می‌دهد. این امر باعث تقویت ارتباط میان استاد و شاگرد می گردد.

در نهایت، استادان باید الگوی اخلاق نیکو باشند. رفتار، گفتار و کردار آنان تأثیر زیادی بر شاگردان دارد. اگر استادان خود صادق، منظم و مسئولیت‌پذیر باشند، شاگردان نیز از آنان الگو گرفته و این صفات را در خود پرورش می‌دهند.

در نتیجه، برخورد نیک و مناسب استادان با شاگردان، نقش مهمی در ایجاد محیط آموزشی سالم و موفق دارد و زمینهٔ رشد علمی و اخلاقی شاگردان را فراهم می‌سازد.

**نویسنده: احمد عزیر "سنگین" متعلم صنف دوازدهم**

# په زده کړه کې د کمپیوټر او انټرنیټ ارزښت



په نننۍ پرمختللې نړۍ کې کمپیوټر او انټرنېټ د ښوونې بنسټیز او نه بېلېدونکي عناصر ګرځېدلي دي. دا تخنیک پوهنه (ټکنالوژي) نه یوازې د زده‌کړې بڼه بدله کړې بلکې د پوهې ترلاسه کولو لارې یې هم پراخې کړې دي. نن سبا زده‌کوونکي کولای شي له خپل ټولګي څخه بهر، د نړۍ له هر ګوټ څخه معلومات ترلاسه کړي او خپله پوهه نوره هم پیاوړې کړي.

کمپیوټر د زده‌کړې په بهیر کې یو مهم او څو اړخیزه وسیله ده چې د هغې له لارې زده‌کوونکي کولای شي تعلیمي پروګرامونه، ډیجیټلي کتابونه او تمریني نرم توکي(سافټویرونه) وکاروي. دا وسایل د زده‌کړې بهیر لا جذابه اوآسانه کوي. د بېلګې په توګه، د ریاضي ستونزې په کمپیوټر کې په چټکۍ سره حل کېدای شي، یا د ساینس تجربې په مجازي ډول ترسره کېدای شي، چې دا کار د زده‌کوونکو د عملي پوهې په لوړولو کې مرسته کوي.

انټرنېټ بیا د معلوماتو یو پراخ او بې‌پایه سرچینه ده. زده‌کوونکي کولای شي د هر مضمون اړوند معلومات، څېړنې، ویډیوګانې او پرلیکه (انلاین) درسونه پیدا کړي. د انټرنېټ له لارې پرلیکه زده‌کړه هم ډېره عامه شوې ده، چې پکې زده‌کوونکي کولای شي له کوره او پرته له دې چې ښوونځي ته ولاړ شي، خپل درسونه تعقیب کړي. دا ځانګړتیا سربېره پر دې، کمپیوټر او انټرنېټ د ښوونکو لپاره هم ډېرې آسانتیاوې برابرې کړې دي. ښوونکي کولای شي خپل درسونه په نوې او جذابه بڼه وړاندې کړي، لکه د سلایډونو، انځورونو او ویډیوګانو کارول. همدارنګه، د زده‌کوونکو ارزونه هم په آسانه توګه ترسره کړي، لکه پر لیکه (انلاین) آزموینې او چټکې پایلې تر لاسه کول.

د تخنیک پوهنه (ټکنالوژي) یوه بله مهمه ګټه د اړیکو آسانتیا ده. د انټرنېټ له لارې زده‌کوونکي او ښوونکي کولای شي یو له بل سره په دوامداره اړیکه کې وي، پوښتنې شریکې کړي او ژر ځوابونه ترلاسه کړي. دا کار د زده‌کړې بهیر لا چټک او اغېزمن کوي. خو د دې ټولو ګټو ترڅنګ، ځینې ننګونې هم شته. که کمپیوټر او انټرنېټ په سمه توګه ونه کارول شي، نو د وخت ضایع کېدو، د تمرکز کمېدو او حتی د ناسمو معلوماتو د ترلاسه کولو لامل کېدای شي. همدارنګه، د انټرنېټ زیاته کارونه کولای شي د زده‌کوونکو پر روغتیا، لکه سترګو او ذهن، منفي اغېز وکړي. له همدې امله، اړینه ده چې د تخنیک پوهنه (ټکنالوژي) کارونه په اعتدال او د لارښوونې لاندې ترسره شي.

په پای کې، ویلای شو چې کمپیوټر او انټرنېټ د زده کړې په ډګر کې یو لوی بدلون راوستی دی. دا وسایل که په سمه او هوښیارانه توګه وکارول شي، کولی شي د زده‌کړې کیفیت لوړ کړي، زده‌کوونکي لا نوښتګر کړي او د راتلونکي لپاره یو پیاوړی، باعلمه او مسلکي نسل وروزي.

کتنپلاوی:
شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»

مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا : محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر : ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت

**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او ټلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

# Marif
Weekly

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 325 /2026

# د پوهنې وزیر له لوري په بامیان ولایت کې د یو باب منځني ښوونځي د بنسټ ډبره کېښودل شوه



د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوي حبیب‌الله آغا د بامیان ولایت په پنجآب ولسوالۍ کې د یو باب منځني ښوونځي د بنسټ ډبره کېښوده.

په هغه مراسمو کې چې له همدې امله جوړ شوي وو د پوهنې محترم وزیر د خلکو له تود هرکلي څخه د منني تر څنګ ژمنه وکړه چې د سیمې د اوسېدونکو د پوهنې اړوند غوښتنو ته به شته امکاناتو ته په کتو رسېدنه وشي.

د پوهنې محترم وزیر په خپلو خبرو کې وویل چې یاد ښوونځی د سیمې د ماشومانو د ښوونې او روزنې په وده کې مهم ګام دی.

په دې غونډه کې د بامیان ولایت د پوهنې رئیس محترم قاري عنایت‌الله سهار وویل چې یاد ښوونځی به د ۷ مېلیونه، ۸ سوه او ۸ زره افغانیو په لګښت په یوه پوړ کې په پاخه او اساسي ډول جوړ شي، چې ۶ درسي ټولګي، ۲ اداري خونې او د ځښاک پاکې اوبه به ولري.

نوموړي زیاته کړه چې د ښوونځي ددې ودانۍ په جوړېدو سره به د سیمې سلګونو تنه ماشومانو ته د زده کړې مناسب ښوونیز چاپېریال برابر شي.

## پوهنې وزارت د ۱۴۰۵ ښوونیز کال د وري میاشتې فعالیتونه او لاسته راوړنې



پوهنې وزارت د علم‌دوستو هېوادوالو او همکارو بنسټونو په مالي ملاتړ د شاوخوا ۲۱۳ میلیونه او ۷۲۲ زره افغانیو په لګښت د ملک په ۱۲ ولایتونو (بامیان، کندهار، سرپل، بدخشان، دایکندي، غزني، زابل، ننګرهار، لوګر، جوزجان، کابل او هلمند) کې د ۳۴ بابه ښوونځیو ودانۍ په اساسي ډول ترمیم کړې دي او هم د ۸ بابه ښوونځیو سربېره د پوهنې آمریتونو لپاره نوې ودانۍ جوړې شوې دي....

۲مخ

## گزارش هفته وار ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف

در هفتهٔ گذشته، مسئولان ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف از مکاتب شهید ناهید، محمد اسماعیل حسن‌زی، سردار محمد داود خان، نازو انا، بی‌پی مهرو و همچنان مکاتب خصوصی پردیس، حدیقه‌الایمان، حکیم‌زاده، وفاق، کانوال، کلید معرفت و کورس‌های تعلیمی هلال سنتر، وفاق، پرورش ذهن و آموزگار در نواحی پنجم، ششم و سیزدهم شهر کابل بازدید به عمل آوردند.

در جریان این بازدیدها، سیرت، صورت، نظم، دسپلین و وضعیت اخلاقی شاگردان به‌گونهٔ همه‌جانبه مورد ارزیابی قرار گرفت و به منظور بهبود هرچه بیشتر محیط تعلیمی، رهنمودها و هدایات لازم ارائه شد. همچنان، به هدف ارتقای کیفیت روند تعلیمی، در برخی بخش‌های نصاب تقویتی هدایت‌هایی جهت اصلاح و تعدیل داده شد تا تربیهٔ دینی، اخلاقی و فکری شاگردان بیشتر تقویت یافته و روند تعلیم و تربیه به شکل مؤثر پیش برده شود.

در همین حال، به منظور تطبیق منظم فعالیت‌های دعوت و ارشاد در این مراکز آموزشی، مبلغین تعیین شدند تا تدریس نصاب دعوت و ارشاد را به پیش برده و روند فکری، اخلاقی و اصلاحی در میان شاگردان تقویت گردد.

علاوه بر این، از سوی مسئولان ریاست دعوت و ارشاد، برای کارمندان بخش مرکزی وزارت معارف نیز مسائل مهم شرعی تشریح و بیانات اصلاحی ارائه شد که هدف آن ارتقای سطح آگاهی دینی کارمندان، تضمین تطبیق بهتر نصاب و تقویت فعالیت‌های اصلاحی بوده است.

گزارش های واصله از ریاست‌های ولایتی معارف نشان می‌دهد که مسئولان دعوت و ارشاد در تمامی ولایات، در کنار تدریس نصاب، برنامه ها و رهنمود های اصلاحی و ارشادات دینی رابه‌گونهٔ منظم تطبیق کرده که نتایج آن مثبت ارزیابی شده است.

در نتیجهٔ این تلاش‌ها، سطح آگاهی دینی کارمندان افزایش یافته، تطبیق نصاب تعلیمی مؤثرتر شده و نشانه‌های واضحی از بهبود و تأثیرگذاری برنامه‌های اصلاحی مشاهده می شود.


## د پکتیکا ولایت په یو باب دیني مدرسه کې د درسي ټولګیو او کتابتون جوړولو چارې پیل شوې

د پکتیکا ولایت په بکخېل ولسوالۍ کې « د فیض المدارس حمیدیه دیني مدرسې» لپاره د درسي ټولګیو او یو باب کتابتون جوړولو چارې د سیمې اوسېدونکو په مالي مرسته د ۳۵۰ زره افغانیو په لګښت پیل شوې.

د یاد ولایت پوهنې رئیس محترم مولوي عبدالوکیل خالد د سیمې اوسېدونکو له مرستې مننه وکړه او ویې ویل چې له ښوونیزو بنسټونو څخه د خلکو ملاتړ د ښوونیز نظام د لا ټینګښت او پراختیا لامل ګرځي.

د بکخېل ولسوالۍ پوهنې آمر وایي چې د یادې مدرسې لپاره ۶ درسي ټولګي او همدارنګه د یو باب کتابتون جوړول په پام کې نیول شوي تر څو طُلابو د مطالعې لپاره له یو مناسب ښوونیز چاپېریال څخه برخمن شي.

د یادونې وړ ده چې تر دې وړاندې هم د همدې ولایت په اومنه ولسوالۍ کې د ځایي اوسېدونکو په مرسته د یو باب دیني مدرسې او یو محراب جومات جوړولو چارې پیل شوې وې.




## تعمیر جدید یک باب مکتب در ولایت غور به بهره برداری سپرده شد




کار ساخت تعمیر جدید لیسه غلمین در مربوطات شهر فیروزکوه مرکز ولایت غور که به کمک مالی باشنده گان محل و شورای تعلیمی به پایه اکمال رسیده بود طی مراسم با حضور باشنده گان محل از سوی محترم الحاج مولوی غلام محمد کاظم رئیس معارف ولایت غور افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

به گفته مسئولان ریاست معارف غور این تعمیر دارای ۶ صنف درسی بوده که با ساخت آن مشکلات صدها تن شاگرد این لیسه از ناحیه نبود صنوف درسی برطرف شده است.

رئیس معارف ولایت غور در مراسم افتتاح این تعمیر گفت:« مسرت داریم که مردم ما برای ارتقای تعلیم وتربیه خود توجه دارند ودر کنار نظام شان اقدام به فعالیت‌های بنیادی در بخش تعلیم و تربیه می‌کنند، ضمن کمال سپاس‌گزاری از مردم غلمین، می‌خواهم بگویم که شما الگوی خوبی برای جامعه ما هستید».

در این حال باشنده گان محل نیز از افتتاح تعمیر جدید این لیسه ابراز خورسندی نموده و از سایر هموطنان نیز خواستند تا برای رشد و تقویت نظام آموزشی از هیچگونه سعی و تلاش دریغ نورزند و برای پیشرفت علم و دانش همکاری نمایند.

**ګرانو هېوادوالو؛ د ملک د پوهنې په وده او پراختیا کې رغنده ونډه واخلئ او په دې برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړئ.**